گل جان صابر ۲۰۲۱/۱۱/۲۴

# ځوک چې کار کوې هغه به يې خورې هم

په يوه کورنۍ کې د کور مشر هر مابښام د خپلې مېرمنې څخه پوښتنه کوله چې د کور هر يوه غړي نن د ورځې څومره کار کړی دی. هغه به وروسته له دې د مابښام لپاره تيار شوي خواړه په عادلانه ډول د کورنۍ د غړو تر منځ داسې وېشل: چې څومره د کار کړی هومره خواړه واخله.

هغه وخت راورسېد چې د کور مشر بايد خپل زوی ته واده کړی وای. زوی يوه داسې نجلۍ خوښه کړې وه چې ښکلې، مهربانه خو خورا تنبله وه. د کور خاوند پخوا لا ويلي و چې خپل کور ته بې کاره نګور نه را پرېږدي خو اوس يې وويل:

- پروا نه لري، زه به داسې وکړم چې زما راتلونکې نګور په خپله خوښه دومره کار وکړي لکه مونږ هر يو يې چې کوو.

واده وشو، ځوان خاوند او ځوانه مېرمن د مور او پلار سره اوسېدل. د کور مشر هر مابښام د خپلې مېرمنې خبرې اورېدلې چې نن ورځ چا څومره کار کړی او وروسته له هغې يې د مابښام خواړه په عادلانه ډول وېشل. نګور به هره ورځ وږې ويده کېدله. څو ورځې وروسته هغه دې ته اړ شوه چې د نورو په څېر کار وکړي.

نګور يوه ورځ ځنګل ته په لرګو پسې تللې وه. هغې چې د لرګو پنډه يې په شا وه د راتلو په لاره کې خپل ورونه وليدل چې د دې د ليدلو لپاره راغلي وو. خور د ورونو په ليدلو خوشاله شوه، له هغوی سره يې ستړي مشي وکړه او په نا ارامي يې ور ته وويل:

- که تاسو غواړی چې زما سره کور ته ولاړ شی نو لږ، لږ لرګي درسره په شا کړی ځکه چې که کار ونکړی نو زما خسر د مابښام ډوډۍ نه درکوي.

ورونو وخندل او ويې ويل:

- ګرانې خورکې، ته فکر مه کوه. ستا خسر مونږ وږي نه پرېږدي ځکه چې مونږ د هغه مېلمانه يو. مونږ غواړو پوه شو چې هغه څرنګه ستا څخه داسې خواريکښه ښځه جوړه کړه؟ مالومېږي چې يوې مړې ډوډۍ ستا په څېر تنبلې ته هم د کار کول ور زده کړل.

د البانيا د خلکو کيسه
ژباړونکی: ګل جان صابر


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له مونږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ